Australian Government
Department of Education, Skills and Employment

# د کورونا ویروس (COVID-19) مالومات او ښوونځي – د والدینو او زده کونکیو لپاره مالومات

د استرالیا ټول حکومتونه – فدرالي، ایالتي او سیمه ایز – د تعلیم اهمیت پیژني او ژمن دي چې د COVID-19 د ناروغي په وخت کې د زده کونکیو د زده کړې ملاتړ وکړي.

ایالتی او سمیز حکومتونه او  د غیر حکومتی سکتور چارواکي د خپلو ښوونځیو لپاره د عملیاتی پریکړو او په اداره کولو کي مسئولیت لري. د دي په اړه د مالوماتو لپاره چي ستاسو په سیمه کې ښوونځي COVID-19 ته څه غبرګون ښيي، لومړي د خپل ښوونځی سره اړیکه ونیسي، او د خپل ایالتی او سیمه ایز حکومت مشوره تعقیب کړي. د ایالتی او سیمه ایزو حکومتونو تعلیمي ویبپانو لیکي لاندي دي:

[Australian Capital Territory (استرالیا مرکزی قلمرو)]
[New South Wales] (نیو ساوت ویلز)
[Northern Territory] (شمالی قلمرو)
[Queensland] (کوینزلند)
[South Australia] (سویلی استرالیا)
[Tasmania] (تازمانیا)
[Victoria] (ویکتوریا)
[Western Australia] (لویدیځ استرالیا)

ایالتی او سیمه ایزو حکومتونه موافقه کړي چي په ښوونځیو کې COVID-19 ته غبرګون په اړه پریکړی باید د کارپوه، رسمي، ملی او ایالتی میشته دولتی روغتیايي او تعلیمی ادارو لخوا د مالوماتو په ورکولو دوام ومومي.

## په ښوونځیو کې د COVID-19 د لیږدیدو د احتمالي خطر کمول

په 24 اپریل 2020 کې، د استرالیا د روغتیا ساتنې مدیریتی کمیټه ((Australian Health Protection Principal Committee (AHPPC) په ښوونځیو کې د COVID-19 لیږدیدو احتمالي خطر کمولو په اړه روغتیايي مشوره خپره (health advice) کړي ده. دا عملي لارښوونه او مشوره د ښوونځي مشرانو لپاره چمتو شوې چې د ماشومانو، والدین، ښوونکو او ملاتړي کارکوونکو سره کار کوي ترڅو د COVID-19 وبا پرمهال په ښوونځیو کې د کورونویرس (COVID-19) لیږدونې خطر  نور هم کم کړي.

په لنډه د پام وړ شیان په لاندې ډول دي:

- **د والدینو لپاره:** که ستاسو ماشوم ناروغ وي ، دوی باید ښوونځي ته لاړ نشي. تاسو یې باید په کور کې وساتئ او له نورو څخه لرې وي. په یاد ولرئ چې ښوونځي ته د تګ پر مهال له نورو والدینو او ښوونکو څخه فزیکي واټن وساتي، پشمول د خپلو ماشومانو د پریښودو او بیرته وړلو په وخت کې.
- **د ماشومانو لپاره:** خپل مور او پلار، سرپرست یا ښوونکي ته ووایاست که تاسو د ناروغي احساس کوئ.
- **د ښوونکو لپاره:** کار ته مه راځې که تاسو ناروغ یاست یا په زیانمنونکي کټګورۍ کې یاست.
- **د ټولو لویانو لپاره:** د ښوونځي په چاپیریال کې د لیږد لوی خطر د لویانو تر مینځ دی. دا خورا مهم دی چې ښوونکي او والدین دواړه په ښوونځي کې د ځان او د یو بل مینځ کې فزیکي واټن وساتي.

## نظافت

زده کونکیو ته یادونه کیږي:

- خپل لاسونه اکثرا د صابون او اوبو سره په شمول د خواړو د مخه او وروسته او تشناب ته دتګ څخه وروشته پریمینځي.
- د لاس پاکولو مایع (سنیتایزر) وکاروی.
- خپل توخیدل او پرنجیدل په مړوند یا د ستمال پوښ کړی (لاسونه مو نه وی).
- خپل استعمال شوي دستمالونه سمدستي په زباله داني کې واچوي او بیا خپل لاسونه پریمینځي.
- هڅه وکړي په خپل خوله او مخ لاس ونه وهي.
- د نورو لاسونه مه نیسي او لاس نورو ته مه ورکوي.
- هڅه وکړی د خپل ځان او نورو تر مینځ د نورمال نه ډیر واټن وساتئ.
- په لین/قطار کې د دریدلو څخه مخنیوی وکړي.
- که اندیښنه لري د نورو څخه مرسته وغواړي.

## د ثانوي او د پوهنتون د داخله ترتیبات

په 7 اپریل 2020 ایالتی او سیمه ایزو وزیرانو دا موافقه وکړه چی د ثانوی دوري زده کوونکي (د 12 کال زده کوونکي) به وکولی شي چی سږکال د لوړو زده کړو سرتیفیکت تر لاسه کړي، او دا سرتیفیکت به پوهنتون، نورو زده کړو او کار موندنی ته لاره هواره کړي.

## ناپلان (NAPLAN)

په 20 مارچ 2020، د پوهني وزیرانو پریکړه وکړه چي ناپلان به په 2020 کې تر سره نشي. ټاکل شوی وه چي ناپلان د 12 تر 22 می 2020 پورې ترسره شي.

د 2020 ناپلان د نه تر سره کیدلو پریکړه به د ښوونځی د مشرانو، ښوونکیو، او ملاتړی کارکوونکیو سره دا مرسته شي، چي دوي خپله ټوله توجه د زده کوونکیو د هوسایني او د تعلیم دوام ته متمرکزه کړي.

ناپلان یوه ملي ارزونه ده چي د زده کوونکي قابلیت په دریو برخو کي سواد – لوستل، لیکل او د ژبي اصول (املا، ګرامر او انشا) – او حساب ازمایي. په ټولو ایالتونو او سیمو کي ښوونځیو د 2008 راهیسي هر کال د می په میاشت کی  ناپلان تر سره کړي دي.